Working together

UNHCR
The UN Refugee Agency

Consiliul Național Român pentru Refugiați

# رومانیا ته زما سفر

د بې سرپرسته او جلا شوي بهرني کوچنيانو لپاره بروشر

د پناه غوښتنې کړنلاره. حقوق او مکلفيتونه. د کورنۍ یوځای کیدل.

Broșură în limba paștu



# رومانیا ته ښه راغلاست!

زه ډاډه یم چې تاسو د خپل وضعیت په اړه ډیرې پوښتنې لرئ: "زه به له اوس څخه څه وکړم؟"، "آیا زه کولی شم په رومانیا کې پاتې شم؟"، "آیا زه کولی شم چې خپله کورنۍ بیا وګورم؟".

په رومانیا کې به تاسو مختلفو خلکو وه پیژنئ چې د هغوی دنده دا دی چې ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو خوندي یاست. د دغو کسانو څخه ځینې یې د رومانیا د دولت لپاره کار کوي، پداسې حال کې چې نور یې د غیر دولتي موسسو (NGOs) لپاره کار کوي.



# سلامونه!

زما نوم سلیم دی! د هغو ستونزو له امله چې زه په خپل اصلي هیواد کې ورسره مخ شوم، زه مجبور شوم چې خپل هیواد پرېږدم او ستاسو په خیر، زه په رومانیا کې پناه غوښتونکی شوم. زه به تشریح کړم چې وروسته به څه پیښ شي او چا سره تاسو اړیکه ونیسئ.راځئ چې په ګډه تیر تعقیب کړو!



**سرحدي پولیس**

سرحدي پولیس به د IGI افسرانو ته زنګ ووهي چې ستاسو سره مرسته وکړي او تاسو د IGI مرکز ته بوځ.

**د مهاجرت عمومي دفتر (IGI)**


د IGI افسران به ستاسو د پناه غوښتنلیک ثبت کړي او تاسو ته به د لنډمهاله هویت سند درکړي.

**د IGI کیمپ**

که تاسو 16 کلن یاست، تاسو کولی شئ د IGI په کیمپ کې پاتې شئ.

**د تولنیزې مرستې او د ماشومانو د ساتنې عمومي ریاست (DGASPC)**

که چیرې ستاسو عمر د 16 کالو څخه کم وئ، د تولنیزې مرستې او د ماشومانو د ساتنې عمومي دفتر (DGASPC) به تاسو په یو کیمپ یا کور او یا اپارتمان کې ځای درکوې او تا سو به هلته ژوند وکړی. دا ځایونه به د (DGASPC) پورې اړه ولري.



**تاکل شوی استازی**


**د غیردولتي موسسو مشاور**

**د پناه غوښتنه**

د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ 6 پاڼې ته مراجعه وکړئ

**1 د پناه غوښتنه**

**2 اینټرویو**



**ترجمان**

**د پریکړې افسر**

**3 پریکړه**

**ستاسو د پناه غوښتنلیک قبولی**

دا پدې مانا ده چې تاسو ته قبولي در کړی دی (پناه او یا اجتماعی خوندیتوب) او تاسو کولی شئ په رومانیا کې د نامعلومې مودې لپاره پاتې شئ.

**ستاسو د پناه غوښتنلیک رد**


که تاسو فکر کوئ چې پریکړه غلطه ده، تاسو کولی شئ د هغې په وړاندې شکایت درج کړئ

**عریضه کول**

ستاسو شکایت د قاضي لخوا بیاکتل کیږي.

**د استیناف غوښتنه**

که قاضي ستاسو عریضه رد کړي، تاسو کولی شئ د دې پریکړې په وړاندې سر نه یو نوی عریضه وکړئ. هلته نور قاضیان به ستاسو قضیه بیا سر نه وګوري او وروستی پریکړه به وکړي.



ترجمان


د پریکړې افسر

د غیر دولتي موسسو سلاکار

تاکل شوی استازی

سرحدي پولیس





**د کورنۍ سره یوځای کیدل**

که تاسو قبول شي، نو تاسو کولی شئ چې خپل مور او پلار رومانیا ته دعوت کړی. د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ 16 پاڼه وګورئ.

# لومړی برخه

## پناه څه ته وايي؟

که تاسو خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو ویره لرئ، تاسو کولی شئ په رومانیا کې د پناه غوښتنه وکړئ. پناه یو نړیواله خوندیتوب دی چې یو دولت هغو خلکو ته ورکوي چې د خپل اصلي هیواد پریښودو ته اړ شوي وي ځکه چې دوی هلته خوندي ندي. دلته د پناه طرزالعمل او د مسول کسانو په اړه نور معلومات شتون لري.



د مهاجرت عمومي پلټونکی (IGI) هغه واک دی چې ستاسو د پناه غوښتنه څیړي، تصویبوي یا ردوي.

## څوک به درسره مرسته وکړي؟

### [illegible]



که تاسو په رومانیا کې یواځې او پرته له خپل کورنی یاست ، نو تاسو ته به د ټولنیزې مرستې او ماشومانو د ساتنې عمومي ریاست (DGASPC) له خوا استازی وګمارل شي. ټاکل شوی استازی به داډ ترلاسه کړي چې ستاسو حقونو ته درناوی کیږي او د پناه غوښتنې پروسې په اوږدو کې به ستاسو سره مرسته وکړي.



### د غیر دولتي موسسو مشاور (د NGO مشاور)




تاسو کولی شئ د غیردولتي موسسو له مشاور څخه هم مرسته ترلاسه کړئ. هغه کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو په .ښه توګه تا سو د پناه غوښتنې پروسه تعقیب کړئ. د غیر دولتي موسسو مشاور د ټاکل شوي استازي ځای نه نیسي او هغه مختلف مسؤلیتونه لري. د IGI مرکز کارمندانو یا ټاکل شوي استازي څخه وپوښتئ چې څنګه له دې کس سره اړیکه ونیسي

### د IGI مرکز کارمندان



دد IGI مرکزد IGI افسرانو لخوا اداره کیږي او هغوی مسولیت لري چې داډ ترلاسه کړي چې تاسو د استوګنې پرمهال خوندي یاست.

### تصمیم نیونکی افسر



دا د IGI افسر دی چې ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پلټنه کوي او بیا پریکړه وکړي. د پریکړې کولو لپاره، افسر به ټول هغه معلومات په پام کې ونیسي چې تاسو ورته وایې او په مرکو کې به تاسو څخه نورې پوښتنې وکړي. اندیښنه مه کوئ، دا یو عادي پروسیجر دی.

### ژباړن



د ایمیګریشن افسر سره د مرکو په جریان کې، یو ژباړونکی چې ستاسو په ژبه خبرې کوي به هم حاضر وي تر سو تاسو ته ترجماني وکړئ . ژباړونکی باید هر هغه څه وژباړي چې د مرکې پر مهال پرې بحث او خبرې کیږي. که تاسو د ترجمان په خبرو او یا ژبه نه پوهیږئ ، پرته له کوم ځنډ خبر ورکړئ.

# دويم برخه

## راځئ وګورو چې کوم ګامونه او کارونه دي چې تاسو باید هغه تعقیب کړئ!




### زه څنګه د پناه غوښتنه وکړم؟

کله چې تاسو د IGI کیمپ ته ورسیږئ، د ایمیګریشن کسان به د DGASPC څخه وغواړي چې یو کس ستاسو قانوني استازی وټاکي . که چیري ستاسو عمر 14 کلونو څخه کم وي، ټاکل شوی استازی به ستاسو لپاره او ستا سو په نوم غوښتنلیک جمع کړي. که تاسو دمخه 14 کلن یاست، تاسو کولی شئ خپل غوښتنلیک وړاندې کړئ، مګر دا باید ستاسو د ټاکل شوي استازي لخوا لاسلیک شي.



دا ممکن یو څه وخت ونیسي تر سو چې تاسو یو ټاکل شوی استازی او یا سرپرست ولرئ. په داسې حال کې چې تاسو منتظر یاست، تاسو کولی شئ د کیمپ له کارمندانو یا د غیردولتي NGO موسسو له سلاکار څخه د مرستې یا معلوماتو غوښتنه وکړئ. د دوی دنده دا ده چې ستاسو لپاره کارونه اسانه کړي.





### سنادونه جمع کول

تاسو باید هر هغه اسناد وړاندې کړئ چې تاسو يې لرئ، لکه ستاسو پاسپورټ، د زیږون سند یا د هویت نور اسنادونه. که تاسو دا اسناد له ځان سره نه لرئ، تاسو کولی شئ نور اسناد چې تاسو سره وي وړاندې کړئ، لکه د ښوونځي اسنادونه، یا کوم بل ثبوتونه چې دا ښيي چې تاسو له کوم هیواد څخه راغلی یاست او تاسو څو کلن یاست. دا اسناد به د قضاوت کونکي افسر سره ستاسو د وضعیت په ښه پوهیدو کې مرسته وکړي. اندیښنه مه کوئ، که چیري تاسو سره اسناد نه وی بیا هم دوی به ستاسو کیس وڅیړي.

## اینټرویو

د ایمیګریشن کارکونکي ستا سو د کیس او دلیلونو په اړه پوښتنې وکړي. ټاکل شوی استازی باید په مرکه کې ستاسو سره وي، او تاسو کولی شئ د غیر دولتي موسسو د مشاور څخه د مرستې غوښتنه هم وکړئ. یو ژباړونکی به هم په مرکه کې حاضر وي تر سو ستا ترجمانې وکړي. که تاسو غواړئ د مرکې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ، د ټاکل شوي استازي یا د NGO / غیردولتي موسسو له سلاکار څخه پوښتنه وکړئ.

## د عمر تایید.

که چیرې ستا سو عمر د 14 کالو څخه ډیر وي، دوی به ستاسو د ګوتو نښې یا بایومیتریک واخلي. د اندیښنه خبره نه دي، دا یو عادي کړنلاره ده! وروسته به تاسو د پناه غوښتونکي په توګه د لنډمهاله هویت سند ترلاسه کړئ. کله چې تاسو د مرکز څخه بهر ځئ، مهرباني وکړئ لنډمهاله کارت له ځانه سره واخلئ.

ځینې وخت ایمیګریش به ستاسو د عمر د تصدیق په اړه د ډاکټرانو نظر وغواړي. حتی که دا پیښ هم شي، د دې په اړه اندیښنه ته اړتیا نشته. یو متخصص ډاکټر چې ستاسو په څیر یې ډیری ماشومان معاینه کړي دي، او ستاسو د عمر تصدیق کولو لپاره ډاکټر به ستاسو د بدن ځینې برخې اندازه کړي. که تاسو د دې پروسیجرو څخه ناخوښه یاست، د خپل ټاکل شوي استازي یا د IGI مرکز کارمندانو سره د خپلو اندیښنو په اړه خبرې وکړئ.



## ډیر مهم:

که چیري ستاسو مور او پلار یا خپلوان د اروپا په نورو هیوادونو کې وي او تاسو غواړئ له دوی سره یوځای شئ، نو ټاکل شوي استازي او د ایمیګریشن کارکوونکو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ.

## مه هیروئ:

دا ممکن وخت ونیسي تر څو ستا سو ځواب راشي. تر هغه وخته، تاسو باید په کیمپ کې منتظر پاتې شئ، چیرې چې تاسو به په دوامداره توګه مرسته ترلاسه کړئ (نور معلومات لپاره 14 پاڼه ولولئ).

د ضرورت په صورت کې د DGASPC لخوا ټاکل شوی استازی او یا د غیر دولتي موسسو مشاور به تاسو ته د طرزالعمل د وضعیت په اړه خبر درکړي. د اضافي معلوماتو غوښتنه کولو څخه ډډه مه کوئ.

## ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه

د ایمیګریشن کارکوونکی به ستاسو ټول خبري او هغه اسناد په پام کې ونیسي چې تاسو یې سپارلي او ستاسو د پناه غوښتنې په اړه به معقوله پریکړه وکړي. ستاسو ټاکل شوی استازی او د NGO سلاکار به هغه پریکړه تشریح کړي چې تاسو یې ترلاسه کوئ.



هو.

ستاسو د پناه غوښتنلیک تصویب پدې معنی دی چې تاسو ته قبولي ور کړ شوی دی: پناه او یا اجتماعی قبولي. او تاسو کولی شئ په رومانیا کې د نامعلومې مودې لپاره پاتې شئ. تر هغه چې تاسو 18 کلن شئ یا تر هغه چې تاسو له خپلې کورنۍ سره یوځای نه شئ تاسو به د DGASPC څخه مرستې ترلاسه کولو ته دوام ورکړئ .



نه.

د پناه غوښتنې ردیدل پدې معنی دي چې د ایمیګریشن د کارکوونکي له نظره ستا سو دلیلونه د منرو ور ندي .که تاسو د پریکړې سره موافق نه یاست، تاسو کولی شئ د ټاکل شوي استازي او/یا د غیردولتي موسسو د سلاکار په مرسته د دغې پریکړې په وړاندې شکایت درج کړئ. کله چې تاسو د رد ځواب ترلاسه کړئ، تاسو به یوازې 10 ورځې وخت ولرې چې خپل عریضه د هغې په وړاندې جمع کړي. دوی به هڅه وکړي چې تاسو ته وکیل پیدا کړي، څکه چې دا ځل تاسو د قاضي سره خبرې کوئ.



## خپل حقوق وپیژنئ!

ټاکل شوی استازی، د ایمیګریشن کارکوونکی او د غیر دولتي موسسو مشاور به تاسو ته ستاسو د حقونو او مکلفیتونو څخه خبر کړي. دوی به ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو هغه ملاتړ او خدمتونه ترلاسه کوئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ، لکه:


- خواړه
- د اوسیدو ځای
- طبي پاملرنه
- د سختو شرایط په دوران، ستاسو ملاتړ په روحی توګه
- تفریحي فعالیتونه
- د پاملرنې اشیا

## د بیړني حالت په صورت کې، تاسو کولی شئ لاندې شمیرو سره اړیکه ونیسي:

- 119 - کرښه یوازې ماشومانو ته وقف شوې ، کله چې تاسو په خطر کې یاست او یا د خطر احساس کوئ نو دغه شمیرې سره اړیکې ونیسئ.
- 112 - د پولیسو او طبي بیړنیو حالتونو لپاره د تلیفون عمومي شمیره ده.

رومانیا عموما یو خوندي هیواد ګڼل کیږي، مګر موږ سپارښتنه کوو چې په ځانګړې توګه د شپې له خوا یوازې کیمپ نه بهر مه ځئ. که څوک تاسو ته توکي (پیسې، سګرټ) یا غیر قانونی مادي وړاندیز کوي (لکه مخدره توکي،دوا بغیر د نسخې ) نو دغه شیان تا سو مه اخلئ او هغه ځای نه ځان لیری کړئ.

## دلته ځيني خدمتونه دي چې تاسو ترې ګټه پورته کولی شئ:



## تفريحي فعاليتونه

تاسو کولی شئ په تفريحي فعاليتونو کې برخه واخلئ او دغه تا سو سره مرسته کووي چې تاسو ملګری پيدا کړي او خپل چاپيريال په ښه توګه درک کړئ.

## استوګنځی او خواړه

تاسو د استوګنې په دوران کې، بايد خواړه او د پاتې کيدو لپاره خوندي ځای ته لاسرسی ومومئ. که ستاسو عمر 16 کلونو څخه کم وي، تاسو به په DGASPC* کيمپ کې ژوند وکړي او دغه کيمپ يواځې ماشومانو لپاره ده او که چيري ستا سو عمر 16 کلونو څخه ډير وي ، تاسو کولی شئ چې د ** ايميګريشن په کيمپ کې پاتې شئ

* د DGASPC کيمپ هغه ځای دی چې په ځانګړي ډول د ماشومانو (هغه ماشومان چې لنډمهاله يا دايمي توګه له مور او پلار څخه جلا شوي) د استوګنې او پاملرنې لپاره جوړ شوی چې چيرې بې سرپرسته ماشومان هم پکې ژوند کولاي شي. دلته تاسو کولی شئ په تعليمي او تفريحي فعاليتونو کې برخه واخلئ کوم چې تاسو سره به د پرمختګ په برخه کې مرسته وکړي. دا مهمه ده چې د کيمپ او يا استوګنځی مقرراتو او کارمندانو ته درناوی وکړئ او په فعاليتونو کې برخه واخلئ.

** د ايميګريش په کيمپ کي د پناه غوښتونکو او کډوالو کوربه توب ترسره کيږي، چې د مختلفو هيوادونو څخه راځي. که تاسو غواړئ په کيمپ کې په ښه حالت ژوند وکړئ،تاسو بايد د خپل کوټې ملګرو ته درناوی وکړئ، د مرکز قواعد ومنئ او پاکوالی وساتئ. په کيمپ کي د غير دولتي موسسو مشاورين هم شتون لري چې تاسو يې د مرستې غوښتنه کولی شئ.

## مالی مرسته

تاسو به د پناه غوښتنې پروسې په جريان او د قبولي د اخيستو نه وروسته مالي مرسته ترلاسه کړئ . د نورو جزياتو لپاره، له خپل ټاکل شوي استازي يا د غيردولتي موسسو له سلاکار څخه معلومات تر لاسه کړئ.

## کار

معمولا ماشومان کار نه کوي ځکه چې ښوونځي ته تلل په دې عمر کې ترټولو مهم شی دی. ښوونځی ستاسو په ژوند او راتلونکي کې مهم رول لوبوي، او د ملګرو پيدا کولو لپاره هم يو ښه ځای دی. په هرصورت، که ستاسو عمر د 16 څخه ډير وي، تاسو کار کولی شئ. له ټاکل شوي استازي او د غير دولتي موسسو له سلاکار سره د کار د شرايطو په اړه خبرې وکړئ.



## ټولنيز خدمتونه

ستاسو ټاکل شوی استازی د ډيری ټولنيزو کارمندانو او متخصصينو سره په ټيم کې کار کوي. د دوی مسوليت دغه دي چې دوي ستاسو اړتياوې و ارزوي او تاسو ته لارښوونه کوي.

## زده کړه

پداسې حال کې چې تاسو د خپل پناه غوښتنليک په اړه پريکړې ته انتظار ياست، تاسو بايد ښوونځي ته لاړ شئ. که تاسو په ښوونځي کې شامل نه ياست، خپل ټاکل شوي استازي سره ددې په هکله خبري وکړئ.ښوونځی ستاسو په ژوند او راتلونکي کې مهم رول لوبوي، او د ملګرو د پيدا کولو لپاره هم يو ښه ځای دی.

## خونديتوب


دا مه هېروئ چې هرکله چې تاسو د خطر احساس کوئ يا کوم بيړني مريضی ولرئ، تاسو کولی شئ 119 بيړني شميرو ته زنګ ووهئ (دغه شميره په ځانګړې توګه ماشومانو لپاره ده ) او يا 112 بيړني شميرو ته زنګ ووهئ.

## رواني ملاتړ

که تاسو ويره لرئ، خوب نه شئ کولی، غمجن يا اندېښمن ياست، اروا پوه ستاسو سره مرسته کولی شي. که تاسو غواړئ د اروا پوه سره خبرې وکړئ، تاسو کولی شئ د خپل ټاکل شوي استازي يا ټولنيز کارکونکي څخه وغواړئ چې تاسو سره هغه مخامخ کړي.

## روغتيايی پاملرنه


که تاسو غواړئ ډاکټر ته لاړشئ د ايميګريشن او يا DGASPC کارکوونکي تا سو سره مرسته کوي چې ډاکټر ته لاړشئ. زه تاسو هڅوم چې ژر تر ژره خپل ټاکل شوي استازي ته د خپلو طبي ستونزو او يا مريضي په اړه خبر ورکړي. که تاسو مريض ياست ، شرم مه کوئ او مه وېرېږئ، خپلې روغتيايي ستونزې په هکله خبر ورکړئ ځکه چې ستاسو روغتيا خورا مهم دی.



## آیا تاسو پوهیږئ، چې د قبولي ترلاسه کولو وروسته، تاسو کولی شئ په رومانیا کې خپل مور او پلار ته بلنه ورکړئ او هغوي دلته راوړئ؟

دې کړنالرې ته د کورنۍ بیا یوځای کیدل ویل کیږي، او ستاسو تاکل شوی استازی او د غیر دولتي موسسو مشاور کولی شي تاسو ته دغه کړنالرې (د مهاجرت دفتر ته د خپل غوښتنلیک د سپارلو لپاره مهم او ضروری اسنادونه) تشریح کړي.

**په یاد ولرئ، تاسو کولی شئ خپل مور او پلار د خپل قبولي ترلاسه کولو وروسته راوړئ.**



### زه باید څه وکړم چې د کورنۍ د بیا یوځای کیدو غوښتنه وکړم؟

تاسو باید د خپل مور او پلار د هویت اسناد او ثبوت وړاندې کړئ چې دوی ستاسو مور او پلار دي. حتی که تاسو دغه اسنادونه چمتو هم نه کړئ، بیا هم دوی به ستاسو غوښتنلیک تحلیل او پرمخ بوځي.

که ستاسو عمر د 16 کلونو څخه کم وي، ستاسو تاکل شوی استازی باید دا فایل ستاسو لپاره جمع کړي. که ستاسو عمر د 16 کلونو څخه ډیر وي، تاسو کولی شئ دا پخپله جمع کړي، مګر دا اړینه ده چې غوښتنلیک ستاسو د تاکل شوي استازي لخوا لاسلیک شي.





### پریکړې ته انتظار وکړئ


د مهاجرت دفتر ځواب تر 9 میاشتو پورې وخت ونیسي. په ځانګړو حالاتو کې، کیدای شي دغه قضیه نورو شپږ میاشتې لپاره وغځول شي.



### ستا سو ځواب کیدای شي په لاندې ډول وي:

**که چیري ځواب مثبت وي** - پدې حالت کې، تاسو کولی شئ د یو NGO یا غیر دولتي موسسې سره خبري وکړئ ترڅو د رومانیا د ویزې ترلاسه کولو لپاره د دوی سره مرسته وکړئ.

**که چیري ځواب منفي وي** - تاسو کولی شئ د خپل تاکل شوي استازي او د غیردولتي موسسو د سلاکار په مرسته محکمه ته عریضه و کړئ.




### وروسته له دې چې مور او پلار رومانیا ته راځي څه پیښیږي؟

رومانیا ته د رسیدو وروسته، ستاسو مور او پلار به د پناه غوښتنه وکړي، لکه څنګه چې تا کړي وه. دا ممکن یو څه وخت ونیسي، تر هغه چې تاسو یوځای ژوند پیل کړئ.



**وروسته له دې چې دغه کاروونه خلاص شي تاسو کولاي شی چې بیا له خپلې کورنۍ سره اوسئ!**



## د مهم دفترونو نومونه په لاندي دول دي:


**د کډوالو لپاره د رومانيا ملي شورا**

+40 21 312 6210
office@cnrr.ro
www.cnrr.ro

**UNHCR**

+40 723 653 651

د خدماتو او مرستې په اړه تازه معلوماتو ته د لاسرسي لپاره،
راپور ورکول یا فیډبیک چمتو کول
مهالویش: 08:00 - 16:00 (د دوشنبې څخه تر جمعې)



تاسو ډير اوږد مزل کړی، اوس د الوداع ويلو وخت دی! زه پوهيږم چې نوي هيواد ته رسيدل ستونزمن وي، مګر په ياد ولرئ چې دلته خلک شته چې تاسو سره مرسته کوي. د هغوی نه د ملاتړ غوښتنه وکړئ!

Working together

UNHCR
The UN Refugee Agency

Consiliul Naţional Român pentru Refugiaţi

د د کډوالو ملي شورا بنسټ (CNRR) په رومانيا کي يوه غير دولتي موسسه ده چې په 1998 کې تاسيس شوې. په 2003 کې، CNRR د عامه بنسټ حيثيت ترلاسه کړ. CNRR اوس مهال د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري په رومانيا کې نمايندګۍ (UNHCR)د پلي کولو شريک او همکار دی.

زموږ دنده په ټوليزه توګه د بشري حقونو او په ځانګړي ډول د مهاجرينو او پناه غوښتونکو حقونو ته د ټولو قانوني لارو وده او دفاع کول دي. CNRR په خپلو ځانګړو څانګو کې معلومات او حقوقي مشورې خدمتونه وړاندې کوي. دا ټول خدمتونه وړيا وړاندې کيږي.

دا خپرونه د CNRR لخوا د UNHCR، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري، په رومانيا کې د نمايندګۍ په مالي ملاتړ چمتو شوې. د دې خپرونې د منځپانګې مسؤليت په بشپړه توګه د CNRR پورې اړه لري او اړينه نه ده چې د UNHCR رسمي دريځ منعکس کړي.

د CNRR ټول کارمندان اړ دي چې د شفافيت او مسوليت د يقيني کولو لپاره د اخلاقي او بشري معيارونو سره سم عمل وکړي. د شکايتونو، اندېښنو يا د CNRR کارمندانو چلند پورې اړوند ستونزو په صورت کې د لاندې ذکر شوي بريښناليک له لارې سمدستي راپور ورکړئ: inspector@cnnr.ro د CNRR فعاليتونو په اړه د فيډبيک چمتو کولو لپاره، مهرباني وکړئ موږ سره د لاندی بريښناليک له لارې اړيکه ونيسئ: feedback@cnrr.ro.